مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۲/۰۲/۲۷

# دیو جانس کلبی د یونان یو فیلسوف او د حال خاوند

آن دل که پریشان شود از ناله ای بلبل
در دامنش آویز ، که با وی خبری هست
عرفی

د علم او حکمت په زده کولو سره ډیرو د علم او معرفت خاوندانو،په خپل ضمیر او باطن کي بدلون راوستی ،که انسان د علم څراغ په خپل ضمیر او باطن کي روښانه وساتي نو د حقایقو د کشف و خواته مخه کوی ،او په ډیرو رموزاتو پوهیږي . د یونان د مشهورو فیلسوفانواو د حکمت د خاوندانو څخه چې د تاریخ په اوږدوکی ډیرو د معرفت خاوندانو د ده د پند او حکمت نه ډکو خبرو او کنایو څخه ډیر څه زده کړي ، او د ده کنایو ډیرو قدرتمندانو ته د خودی ټکان ورکړی . او د علم او معرفت خاوندانو تری د عالی همت درس اخیستی ، ده په خپل طنزونو او کنایو د ژور فکر خاوندان په حیرت کي پریښي .او دا د حال خاوند (دیوجانس کلبی ) دی . دیو جانس کلبی د یو خم یا مټ په مینځ کی ژوند کاوه ،چي د دنیا یي وسیلو څخه یوه جوړه پاک او ښه کالي درلودل چي هغه یي هم مریدانو د تبلیغ په سلسله کي په حلاله تو‌که ورته بخښلي وو . د مټ په مینځ کي ورسره یوه کاسه وه چي د اوبو څښلو د پاره وه . چي په هغي کي یی اوبه څښلی ، یوه ورځ یی یو ماشوم ولید چي په خپلو لپو یی اوبه څښلی د دي صحني په لیدلو سره (دیو جانس کلبی) کاسه هم لیری وغورځوله ، او د ځانه سره وویل : چي دا هم په دنیا کی نه په کاریږي ، داسی ښکاري چي دیو جانس کلبی د دنیا د رموزاتو او اشاراتو څخه ډیر ژر د عبرت ټکي راټولول او ژر یي عبرت اخیستی ،تند او شاهینی پرواز یي د خیال درلودی او رموزاتو ته د رسیدلو رسا ذهن ورته خدای تعالی ورکړی وو ډیره مشهوره کیسه ده چي سلطان سکندر په خپل هغومره حشمت جاه او جلال سره چي ګڼ شمیر دولتی چارواکی ورسره ول ، د دیو جانس کلبی د محلی څخه یعني کوم ځای کي چي (دیو جانس کلبی)اوسیده سلطان سکندر تیریده سلطان چي د فتوحاتو په غرور او نفسانی هوی او هوس کي ډوب وو . نو دي ته یی پام شو ، چي دیو جانس کلبی ده ته هیڅ پا ملرنه و نه کړه یعنی هیڅ اعتنا یی ونه کړه ،نو سلطان د دیو جانس کلبی و خنګ ته رانژدي شو.او ورته یی وویل : چي زه دي وپیژندم .نو دیو جانس کلبی ورته وویل چي هو ما وپیژندی .نو
سلطان سکندر ورته وویل : نو ولی دي ما ته احترام و نه کړ دیو جنس کلبی ورته ځواب ورکړ . چي ته زما د بنده ګانو بنده یی طمع ،غرور او هوی او هوس دا زما بنده ګان دي ، او ته د هغوی بنده ګی کوی .په داسی حال کي چي ته زما د بنده ګانو بنده یی نو څنګه ما سره برابری کولای شي ، سلطان په عالم د معنویاتو کي سخت د خپل ماتي او شکست احساس وکړ ،د دي خبری د خوریدو سره په زرهاوو کلنو ډ پادشاهانو په دربارونو کي د عبرت د پاره دا کیسه پاتي شوه .دا نه یواځي د سلطان د پاره د عبرت درس وو ،خو د هغی نه وروسته ډیرو مغرورو تاجدرانو او سلطانانو ته د عبرت درس وګرځید ،د ده دکنایو څخه یوه دا ده چي په رڼا ورځ څراغ په لاس په ویرانو کي ګرځیدی او د لټون سترګي یی غړولی لاروپانو تری وپوښتل چي په دي رڼا ورځ څراغ په لاس څه لټوی .دیو جانس کلبی وویل :چي یو رینټینی انسان لټوم .چي ظاهر او باطن یی یو وي نه لکه ځینې انسانانو په شان چي صورت یی د انسان وي او باطن یی د دیو وي ، نو لاروپانو ورته وویل داسی کس نه پیدا کیږي مونږ ډیر لټولی دي ، نو دیو جانس کلبی وویل: چي زه هم هغه لټوم چي نه پیدا کیږي آ چي نه پیدا کیږي زه د هغي پسي ګرځم .د دي خبری اثر د هغی زماني نه ډیرو پیریو را پدي خوا تر ننه پوری پاتي دی .ان چي تر مولانا جلالدین بلخی پوری رسیدلی نو مولانا د دیو جانس کلبی دي قیصی ته داسی اشاره کوی او داسی وایی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

دي شيخ با چراغ همی گشت گرد شهر
کز ديو دد ملـولـم وانســانم آرزوســـت

زين همرهان سست عناصر دلم گرفت
شير خدا و رستــم داســتانم آرزوســت

گفتم که يافت می نشود ، جســـته ايم ما
گفت آنکه يافت می نشود ،آنم آرزوست


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ